ډنمارک کې د پشتون ژغورني غورځنګ ۲۰۱۸/۰۴/۱۱

ډنمارک کې د «پشتون ژغورني غورځنګ»

څخه د افغانانو د ملاتړ د غونډې پریکړه لیك!

د۲۰۱۸ کال د آپریل دمیاشتې آتمه نیټه

بسم الله الرحمن الرحیم

لکه چې ټول پوهیږو پاکستان د تروریستانو او اُجورتي قاتلانو د ټریننګ، وسلوال کولو او نورو هیوادو ته د خطرناکو وسلو سره د هغوی د لیږلو مرکزدي.
دا د هیچانه پټه نده چې د پاکستان نااسلامي حکومت او بالخصوص د هغه هیواد جهنمي استخباراتي دستګاه آی اس آی د پاکستان د جوړیدو څخه ترننه پوري بالخصوص پدی وروسته څلویښتو کلونو کی د ملیونونو بیګناه افغانانو د قتل او زمونږدګران هیواد د ورانولو او په ګران افغانستان کې د ویجاړوونکي جګړې د ادامې او بدبختیمسؤل دي.
د پاکستان نظامی او استخباراتی اداری نه یوازی په آزاد افغانستان کې د جنګ د دوام او د ملیونونو افغانانو د قتل او د افغانستان د ټولو بنیادي بنسټونو د ویجاړۍ مسؤلیت په غاړه لري. بلکې ډیره موده کیږي چې د ډیورنډ د منحوسې کرښې د هغی خواء پښتنوورونو په قتل عام او نسل کُشۍ ئی هم لاس پورې کړیدي.
د آی اس آی بدنامی اداري لومړی د قبائلي سیمو ځائي اوسیدونکي په زوره د خپلوکورو څخه وشړل، او په عوض کې ئي هغه تروریستي ډلي چې نورې ئی د پاکستان په ښارونو او ښارونو ته په نږدې سیمو کی د نړیوالو له سترګوپټې نشوې ساتلی، دیره او د ټریننګ مرکزونه ئی ورته جوړاو فعال کړل.
کله چې نړیوالوته د تروریستانو د ټریننګ او اوسیدو دغه مرکزونه هم رسواء شول، او لدی کبله د پاکستان په حکومت فشارونه زیات شول نو ئی خپل دا رُوزل شوې تروریستان په مصؤنه توګه د پاکستان نورو پټو سیموته انتقال کړل او له هغه مرکزونو ئي جُوړې جُوړې د جنګ، انسان وژنې اوترورپه مخه افغانستان ته لیږې.
له هغې وروسته چې دقبائلي سیمودخلکو د کلوځخه ئی تروریستي ډلي دپاکستان نورو سیموته په فوځي ګاډو کې په مصؤنه توګه انتقال کړې، دنړیوالود تیرایستلولپاره ئی دتروریزم سره دمبارزې په بهانه دامریکې څخه په لسهاوومليارده ډالرترګوتوکړل، اودچنګیزیانوپه شان ئي دبیګناه پښتنوپه قتل عام ، دکلو اوکورونو په ورانولو، بیعزتیاوزورولولاس پورې کړ. هرچاچې به دپاکستاني تورمخي ظالم فوځ او آی اس آی دجنایتونو په باب لږڅه وویل په سباته به یا وژل شوی وو اویابه ژوندی ورک وو، پدی لړۍ کې یوازې په جنوبي وزیرستان کې دری زره مخور سپین ګیري او ملکان ترور اودشپیتو زرو نه زیات نوربیګناه خلک تری تم اولادرکه شول.
دنیکه مرغه چې اوس دپاکستان دحکومت او استخباراتي ادارو دظلمونو، وحشت اوبربریت په ضد د آزاد افغانستان د خلکو ترڅنګ د ډیورنډ د منحوسې کرښې د هغې خواء ټول پښتانه رابیدار شوېدي او د (پښتون ژغورني غورزنګ) ترنامه لاندی د یو هوښیار، زړور، او باحوصله ځوان (منظور پشتین) تر رهبرۍ لاندې ئی ټول مظلوم او در په در پښتانه د یوه بیرغ لاندې راټول کړي، اودپاکستان دحکومت څخه په ټول پاکستان او خصوصاً قبایلی سیموکی دتروریستی مرکزونو دتړلو، د پښتنواوټولو افغانانودنسل کُشۍ او ظلمونو دبندیدو او خپلو قانوني او انساني حقونواو آزادۍ غوښتونکي دي. دوي دفوځي جنګي جنایتکارانومحاکمه او عدالت غواړي .
څرنګه چې دنوموړي غورزنګ مسالمت آمیزه ،انساني، قانوني اوروا غوښتني زمونږ دملي منافعو اوټول صلحدوست بشریت دګټو سره پوره سمون لري، نو مونږ باید دافغانانو په حیث ددغه ولسي برحقه غورزنګ څخه ملاتړ وکړو.
په همدی منظور په ډنمارک کې ګڼ شمیراوسیدونکوافغانانواوسیاسی فعالانو دیکشنبی په ورځ د۲۰۱۸ مال د آپریل په آتمه نیټه د ډنمارک هیواد دآغوس په ښارکي یوه درنده غونډه جوړه کړه. پدی غونډه کې ویناوالو دپاکستان په حکومت اودپاکستان په نظامی اواستخباراتي ادارو، په افغانستان کې دجګړې اورته دلمن وهلواودوامداري مداخلې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او دډیورنډ د کرښې دهغې غاړې په پښتنو باندې دظلمونو له کبله سختې نیوکې وکړې او دغونډې په پای کې ئې لاندې پریکړه لیك صادر کړ .
۱- مونږ د (منظور پشتین) تر مشرۍ لاندې (د پښتون ژغورنې دغورزنګ) کلک ملاتړ کوو.
۲- دپاکستان دحکومت دنظامي اواستخباراتي ادارو نه په ټینګه غوښتنه کوو:
چې دپښتون ژغورنې دغورزنګ ټولې رواء، انساني، عادلانه اوقانوني غوښتنې دې ومني، پښتون وژنه دې بنده کړي، اوهغوی ته دې ټول انساني حقونه او آزادي ورکړل شي.
نوردې په ټول پاکستان کې دتروریستانومرکزونه وتړي، ترورستي او جګړه ماري ډلې دې افغانستان ته نه لیږي، دجګړې اورته دی لمن نه وهي اوپه افغانستان کې دې خپلې نارواء لاس وهنې بندی کړي !
۳- دطالبانوله ملاتړه دي، چې په پاکستان کې ښکاره نظامي اوسیاسي مرکزونه لري، اودپاکستان داستخباراتي اونظامي اداروکلک نظامي او مالي ملاتړ ورسره دی، لاس واخلي اودافغانستان ددولت او خلکو سره دې په افغانستان کې ددایمی سولې په راوستلو اوټینګښت کې مرسته وکړي.
۴- دپاکستان نظامیانو دډیورنډ د منحوسې کرښې په اوږدوکې په غیر قانونی توګه دآغزن تارپه غزولو سره غواړي چې دکوزې اوبرې پښتونخواء ولسونه سره جلا کړي، لکه چې وائی اوبه په ډانګ نه بیلیږي، زمونږ ولسونه سره نه بیلیدونکې دي، لدې کبله دپاکستان داکار مونږ ته دمنلو وړ ندی، سخته غندنه ئې کوو، اوورڅخه جدې غوښتنه کوو چې دآغزن تار غزول دې بندکړي اوغزول شوی تاردې له منځه لرې کړي.
۵- دپاکستان نظامیانوپه تحریکوونکي ډول په کنړکې دافغانستان په خاوره توپونه اورکټونه ولي او بمباري کوي، مونز ددوی داناروا اوظالمانه عمل جداً غندو، اوورڅخه جداً غوښتنه کوو چې نوردې دې ظالمانه اوبیشرمانه عمل ته دپای ټکې کیږدي.
۶- دافغانستان خلك نور دجنګونو، انفجارونو،انسان وژنو اوتبا هی څخه سخت په تنګ شویدي، او سوله غواړي. پدې لړکې (دسوله غوښتنې خیمې) لومړی دهلمند دلښکرګاه دښار څخه شروع شوي او اوس په ټول افغانستان کې دپراخیدو په حال کې دي. مونږ ددې خیمو دپرلت کوونکو غوښتنې رواء اوپرځای بولواودجګړې په دواړوغاړو غږکوو چې دافغانستان په خلکودې رحم وکړي، ددوې غوښتنې دې ومني او دسولې خبروته دې کیني، ترڅو په وطن کې دا څلویښت کلنه اوږده ویجاوړونکې او قاتله جګړه ختمه اوپه وطن کې دائمي سوله منځته راشي.

بریالی دې وي دمنئور پشتین په مشرۍ د پښتون ژغورنې غورزنګ
متحد او بریالې دې وي ټول افغانان
ورک دې وي جنګ
بریالۍ دې وې سوله
ومن الله توفیق

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ